**KP PUBLIC SERVICE COMMISSION**

**Competitive Examination for Civil Judges / Judicial Magistrates, 2015**

**PASHTO GENERAL & ESSAY**

Time Allowed: 03 Hours                                        Total Marks: 100

I — په ورکړې شوو موضوعاتو کښې په یو باندې مضمون ولیکئ — (50)

① پاکستان کښې د پښتنو په سیمه د 9/11 د واقعې اقتصادي، کلتوري او سیاسي اثرات ② د پښتو ژبې او ادب په وده (ترقۍ) کښې د الیکټرانک میډیا کردار ③ اسلام کښې د ښځو حقوق ④ د پښتو ناول – تحقیقي او تنقیدي جائزه ⑤ په موجوده عصر کښې د لیکوال او ادیب ذمه داري

II — دا ورکړې شوې عبارت پښتو کښې ترجمه وکړئ — (15)

A great book is born of the brain and heart of its auther; he has put himself into its pages: They partake of his life, and are instinct with his individuality. It is to the man in the book, therefore, that to begin with we have to find our way. We have to get to know him as an individual. To establish personal intercourse with our books in a simple, direct, human way, should thus be our primary and constant perpose.

III — د امیر حمزه خان شنواري د شاعرۍ خصوصیات بیان کړئ — (10)

یا

د غني خان په کلام کښې د حسن تصور واضح کړئ

IV — د فوکلور تعریف وکړئ – او د پښتو تهذیب په کلتوري اړخ رڼا واچوئ (10)

یا

د پښتو په منظومو روماني داستانو تفصیلي بحث وکړئ -

V — دې شعرونو په اسانه پښتو کښې مطلب بیان کړئ — (15)

څوک چې ځاې په زړه د ښکلو محبت کا —— نو بیا څه پروا د غم او د کلفت کا
هغه څوک چې ځان خادم د قوم حساب کړي —— اخر هغه شي مخدوم بل ئې خدمت کا
هغه قوم شي په دنیا کښې قوم شمېرلے —— چې جوړ ځان له په خپله خپل قسمت کا

یا

چې تصویر د تصور شامل حال شي —— د هجران هره لمحه راته وصال شي
که تېرې شي صدیې د سترګو رپ کښې —— که یو ساعت محسور د ماه وسال شي
خیال چې څور شي په دنیا باندې محیط شي —— چې راغونډ شي د سمه د زړه خال شي